# د انګلیسي تعلیمي سیستم په اړه: منځنی ښوونځی

د هغه ماشومانو د والدینو لپاره لارښود چې انګلیسی د یو اضافي ژبې په توګه کاروي




## په دې لارښود کې څه شی شامل دي؟

تاسي کولای شئ دلته عملي معلومات ترلاسه کړئ ترڅو د خپلو ماشومانو سره د ښوونځی په موندلو کې مرسته وکړئ او د انګلیسي تعلیمي سیستم په اړه پوه شئ.

په انګلستان کې بیلا بیل ښوونځي شتون لري، په شمول د هغو چې والدین باید تادیه ورکړي (د بیلګي په توګه فس ورکول/ازاد/خصوصي ښوونځي).

دا لارښود تاسي ته د انګلیسي ښوونځیو په اړه وایي د کومو لپاره چې تاسي اړ نه یاست تادیه ورکړئ( د بیلګي په توګه دولتي ښوونځي) د لاندینیو ښوونځیو په ګډون بېلابیل ښوونځي شتون لري:

- سیمه ایز چارواکي چې دا ډول ښوونځي د سیمه ایز حکومت له لوري تمویلیږي
- تعلمي مرکزونه او وړیا ښوونځي چې د مرکزي حکومت لخوا تمویلیږي، اکثر اعتباري وي
- عقیدوي ښوونځي - د ځانګړي دین پوري اړه لري

همدارنګه تاسي خپل ماشوم ته په کور کي پوره وخت یا نیم وخت د درس ورکولو اختیار لرئ .دا له کورني تعلیم یا د خپلوی تعلیم څخه عبارت دی یا د کور ښوونځي تاسو کولی شئ نور معلومات دلته ترلاسه کړئ
https://www.gov.uk/home-education



## 1. څنګه کولی شم د خپل ماشوم لپاره ښوونځی ومومم؟

که چیرې ستاسې ماشوم له 5 څخه تر 16 کالو عمر ولري، له سیمه ایزې شورا سره اړیکه ټینګه کړئ (همدارز سیمه چارواکي هم ورته ویل کیږي) LA ترڅو خپل ماشوم لپار ښوونځی ومومئ.

- که چیرې ستاسې ماشوم له 5 څخه تر 16 کلنی پورې عمر ولري، سیمه ایزه شورا باید ستاسې د ماشوم لپاره ښوونځی وموممي.
- تاسې کولای شئ د ښوونځي د داخلې په اړه نور معلومات دلته وموممئ: https://www.gov.uk/schools-admissions

### د مکتب په غوره کولو کې دلته یو شمېر نظرونه شتون لري:

- په خلاصو ماښامونو کې له ښوونځي څخه ننداره وکړئ. دا به د ښوونځي په ویب پاڼه کې اعلان شي.
- د دوی وروستی ډیر کتل شوی راپور ولولئ: https://reports.ofsted.gov.uk/
- د ښوونځي مجموعي کار وڅارئ: https://www.compare-school-performance.service.gov.uk/
- د نورو والدینو سره خبرې وکړئ چې دوی د دې ښوونځي په اړه څه ډول فکر کوي
- ددې ښوونځیو له ویبسایټونو څخه لیدنه ترسره کړئ
- ومومئ چې کوم ښوونځي زده کوونکي په کورنی ژبه کې قبلوي چې GCSE ازموینه اخلي ( د نورو معلوماتو لپاره لاندې 5 برخه وګورئ)

### کله چې پوه شوئ کوم ښوونځی مو خوښ دی، په یاد ولرئ:

- د لړ شمېر غوره کړو ښوونځو په انتخابولو سره آنلاین فورم ډک کړئ
- د خپلې سیمه ایزې شورا د ښوونځي د داخلې له ډلې څخه د مرستې غوښتنه وکړئ، ځکه چې د ښوونځي د غوښتلیک پروسه ممکن ستونزمنه وي.
- له شورا څخه وپوښتئ چې ایا نور خلک، د ټولنې ډلې یا ژباړنکي شته څوک چې له تاسې سره مرسته کولی شي

## 2. په عمر کې به زما ماشوم متوسطه ښوونځي پیلوي؟

په انګلستان کې عموما ماشومان متوسطه ښوونځی د سپټمبر په ماشت کې پیلوي کله چې ددوی یولسمه کلیزه پوره شي. متوسطه ښوونځی په 7 کال پیلیږي (1-6 پورې ابتدایه ښوونځی دی) او په 11 کال پای ته رسیږي.

تعلیمي کال تل په سپټمبر کې پیلیږي او په جولای کې پای ته رسیږي. دا معمولا په درې وختونو تقریبا په 13 اونیو ویشل شوی.

ځوانان کولی شي د جون میاشت د وروستی جمعې په ورځ ښوونځی خوشې کړي که چیرې دوی د اګسټ په وروستیو کې 16 کلن وي. که څه هم، ځوانان چې 16 څخه تر 18 عمر لري باید تعلیم، روزنه ورکړل شي یا په شاګردۍ ونیول شي.


کاپي رایټ ©د بیل تعلمی خیریه شرکت د بیل بنسټ تر عنوان لاندې کار کوي (اکتوبر 2020)

## 3. څنګه کولی شم د ښوونځی وخت او رخصت ومومم؟

په انګلستان کې د ښونځیو وختونه او د رخصت نېټې توپیر لري.

که څه هم، د ښوونځي رخصت معمولا د ډیسمبر په پای او د جنوري په لومړیو ( کریسمیس او نوي کال )کې وي د عیسی د ختو مطابق) او اګسټ سربیره پر دي، ګڼ شمیر ښوونځی د هرو دري وختونو نیمایي کې نیمایي رخصت لري. هر ښوونځی به خپله جنتري په نښه شویو رخصتیو سره خپره کړي.

**ښوونځي 5 دوله داخلي روزنیزي ورځي لري هر کال کله چې ښوونکي روزنیزو برنامو او لیدنو ته حاضري ورکوي.** زده کوونکي په دي ورځو کې ښوونځیو ته نه حاضرېږي کله چې د کال دا ورځې پیل شي، ښوونځي والدینو ته خبر ورکوي.

له ښوونځیو سره خبري وکړئ ترڅو وموﺉ چې رسمي وخت او د رخصت تاریخونه څه وخت دي یا له دي ویب پاڼي څخه لیدنه ترسره کړئ:
https://www.gov.uk/school-term-holiday-dates

## 4. له ښوونځی څخه څه ډول تمه درلودلی شم؟

ګڼ شمیر ښوونځي خپله د ښوونځي د بریا رساله، کتابګی خپروي ترڅو د ښوونځي په اړه اړین معلومات وړاندي کړي. سربیره پر دي، د ښوونځي ویب پاڼه به د ښوونځي په اړه وروستي معلومات او خبرونه راونغاړي. که چیري اړتیا وي له ښوونځي څخه د معلوماتو د ژباړي په اړه غوښتنه وکړئ

ستاسی د ماشوم لپاره به لاندي شیان موجود وي:

- د لیدو ورځي: د کال 6 ماشومان به دا فرصت ترلاسه کړي چې یوه یا دوه ورځې په خپل ثانوي ښوونځی کې تیري کړی ترڅو ووینې چې څه ډول دی
- د تعرف برنامه ستاسي له ماشوم سره مرسته کوي ترڅو په نوي ښوونځی کې د ژوند یو غوره پیل ترسره کړي. دا ممکن خانګړي تنظیمات په ځان کې راونغاړي که چیري ستاسي ماشوم په دې وروستیو کې هیواد یا سیمې ته راغلی وي، د یا د کال په جلا وخت کې ښوونځی پیلوي ( د بیلګی په ډول په سیپتمبر کې نه)
- داسی یو ټولګي چې ټول زده کوونکي یې تقریبا ورته عمر لرونکي وي هر فورم معمولا ځان لاربښود فورم لري.
- د تدریس ورځنی مهالویش هر مضمون به د مضمون د مسلکي شخص لخوا تدریس شي
- پوره نصاب ته لاسرسی - لاندي نور معلومات ولولئ
- یو ټول شموله میتود چیري چې ټولو زده کوونکو سره ورته چلند کیږي
- ورځنی کورنی دنده د نصاب سره تړلی ده



## زما ماشوم په ښوونځي کې نور څه ترسره کوي؟

ستاسي ماشوم به ددې وړتیا ولري چې په فعالیتونو کې، د ښوونځي په سفرونو کې او نورو برنامو کې ونډه واخلي. په دې کې ممکن شامل وي:



- راټولیدنه او فرصتونه د یو ځای عبادت لپاره له خپل ښوونځي څخه د نورو معلوماتو په اړه وپوښتئ
- اضافي نصاب فعالیتونه او کلبونه، د بیلګې په توګه سپورت، موسیقي او ډرامه. دا جبري نه دي او ممکن چې د غرمني پر وخت ترسره شي یا د ښوونځي د پای ته رسیدو څخه وروسته ممکن د کلبونو یو کوچنی اندازه لګښت وي.
- د ښوونځي سفر هغه ځایونو ته کوم چې له نصاب سره تړل شوي وي. ددې سفرونو لپاره معمولا تادیه ورکول کیږي، مګر ښوونځي اکثر ددې وړتیا لري چې دا ډول ستونزې هواري کړي چیرې چې اړتیا وي. د ښوونځي سفرونه معمولا د ښوونکو لخو تنظمیږي له دې امله زده کوونکي خوندي وي. یو شمیر سفرونه چې د GCSE برخه وي جبري وي چې ترسره شي، د بیلګې په توګه GCSE ډرامه، زده کوونکي اړتیا لری چې په ننداړتون کې ډرامه ننداره کړي.
- د ښوونځي د تولید مرکز د ډارمه ایز فعالیت او د موسیقی کنسرتونه په ځان کې رانغاړي
- ټولنیزې برنامې او خیریه برنامې لکه سپورتي ورځې، اوړی او کریسمیس، ډیسکو، او ازموینې. له ښوونځي سره خبرې وکړئ که چیرې تاسي د ماشوم په ښوونځي شاملیدو ته لیوال یاست، د بیلګې په توګه رضایي او خدماتي والد والي، چیرې چې تاسي کولای شئ د ښوونځي په لا ډیر مؤثنیت ګې له رهبرې ټیم څخه ملاتړ وکړئ.
- کاري تجربه د ځوانانو لپاره یو فرصت دی، معمولا په 10 کال کې ترڅو یوه اونۍ په کاري ځای کې تیره کړي. د نورو معلوماتو لپاره د کردار لاندې برخه ولولئ:

## څه ډول یوه شم چې په ښوونځي کې څه پیښیږي؟

ستاسو ښوونځي په دوامداره توګه له تاسي سره مفاهمه ترسره کړي. ښوونځي د اړیکو نیولو لپاره د لاندې طریقو په ګډون له بېلابیلو طریقو څخه کار اخلي:

- د ښوونځي ویب پاڼه: ښوونځي به په خپله ویب پاڼه معلومات نشر کړي. د ښوونځي جنتري وڅارئ ترڅو مهم تاریخونو باندې پوه شئ لکه رخصت، د ښوونکي روزنې ورځي او والدینو ماښامونه
- خبرتیاوې: لیکلی پیغام، ټولنیزه رسنۍ ( د بیلګې په توګه ټویټر) او نور کاریالونه، هم ښوونځي ته د خوړو او سفر د تادیې لپاره کارول کیږي
- انلاین سیستم (د بیلګې په توګه Go4Schools): تاسو کولی شئ د کورنی دندې، ارزیابي او سلوک په اړه معلومات ترلاسه کولای شئ
- بریښنالیک او لیکونه: که چیرې بریښنالیک ته لاسرسی نه لرئ ښوونځی ته وواياست
- د والدینو ماښامونه او راپورونه: دا تاسو ته اجازه درکوي ترڅو د خپل ماشوم د جریان په اړه لا ډیر وپوهیږئ
- لیندې او د معلوماتو ماښامونه: ښوونځي به لیندې ترسره کړي ترڅو اړین معلومات وړاندې شي. د بیلګې په توګه په GCSE.کې د زده کړې لپار د مضمون غوره کول دا کیدلی شي ګټور فرصت وي چې پوښتنې ترسره شي.
- مستقیمه مفاهمه: تاسو کولی شئ ښوونځي ته زنګ یا بریښنالیک وکړئ، یا که مناسبه وي یوه لیدنه تنظیم کړئ.


کاپي رایټ ©د بیل تعلمی خیریه شرکت د بیل بنسټ تر عنوان لاندې کار کوي (اکتوبر 2020)

## 5. ښوونځی له ما څخه څه تمه لري؟

د والد په حیث له تاسي څخه لاندي تمي کیږي:

- خپل ماشوم هره ورځ او په خپل وخت سره ښوونځی ته لیږئ، مګر دا چې ناروغ وي، یا کومه لیدنه لري او یا مذهبي رخصت وي. که کولی شئ له وړاندي څخه خپل ښوونځي سره تماس کې شئ چې ستاسي ماشوم ولي غیر حاضر دی.
- خپل ماشوم یواځې د ښوونځي په رخصتیو کې بهر بوځئ. که چیرې تاسي غواړئ چې خپل ماشوم د ښوونځي رسمي وخت کې په رخصت بوځئ، نو تاسي ممکن جریمه شئ. له ښوونځي سره خبرې وکړئ ترڅو نور معلومات ترلاسه کړئ یا له ویبسایټ څخه لیدنه وکړئ: https://www.gov.uk/school-attendance-absence
- ښوونځی ته د خپل ماشوم یا د کورنی د اړینو پروګرامونو یا اوضاع په اړه ووایاست. دوی به خپله هڅه وکړي ترڅو ستاسو ملاتړ وکړی که چیرې اړینه وي.



- معلومات وړاندي کړئ د بیلګي په ډول طبیي معلومات او د اړیکه نیولو معلومات که چیرې دا معلومات تبدیلیږي نو اړینه ده چې ښوونځي ته وواياست
- د رضایت فورم تکمیل کړئ ترڅو په ګوته کړئ چې ستاسي ماشوم دښوونځي په سفر تللی شي او انځور وباسي.
- د ښوونځي له تګلارو ملاتړ وکړئ د بیلګي په توګه سلوک او د انټرنټ مناسب کارول. تاسي کولی شئ چې د ښوونځي د تګلارو په اړه دښوونځي په ویب پاڼه کي معلومات ترلاسه کړئ تاسي او ستاسي ماشوم ته به چایزي یا بندیز په اړه خبر درکړل شي. ستاسي ماشوم به د ښوونځي بریښنالیک ولري او انټرنټ ته به لاسرسی ولري چې باید په مناسب ډول وکارول شي.
- خپل ماشوم سره د دوی په کورنی دنده کي مرسته ترسره کړئ. د نورو معلوماتو لپاره چې څنګه کولی شو د ماشوم زده کړي ملاتړ وکړو دلته وګورئ: **دلته**.

## 6. څوک په ښوونځي کي څوک

د ښوونځي د بریالیتو رسالي یا د ویب پاڼي څخه لیدنه وکړئ ترڅو د پرسونل غړو نومونه او انځورونه ووینئ: ځیني وخت د دا د ښوونځي د داخلیدو په دروازه کي نصب شوي وي.

له ښوونځي څخه وپوښتئ چې کوم کارکوونکی ستاسي له ماشوم سره کار کوي. په دي کي ممکن لاندي کسان شامل وي:



- لوی رهبران - د بیلګي په توګه سرمعلم، د سرمعلم معاوین یا همکار سرمعلم
- دفتري پرسونل - د بیلګي په توګه د ټولګي ښوونکی یا همکار ښوونکی
- تدریسي پرسونل - د بیلګي په توګه د ټولګي ښوونکی او همکار ښوونکی
- پرسونل - د بیلګي په توګه د کال رهبران - د استادی فورم تدریسي رهبر -
- مسلکي کارکونکي — د مثال په ډول EAL ښوونکي (انګلیسي د یوي اضافي ژبي په توګه)، SENDCo (د ځانګړو تعلیمي اړتیاو او معلولیت همغږي کوونکی)، د خوندیتوب مشر ښوونکی (DSL)

## 7.په ښوونځي کې څه تدریسیږي او د څه شي ازموینه اخیستل کیږي؟

د 11 کالو زده کوونکي معمولا ملي ازموینې په مې او جون کې ورکوي. ګڼ شمیر زده کوونکي GCSE ازموینه کې راځي (د ثانوي تعلم عمومي سند)

مهرباني وکړئ لاندې جدول وګورئ ترڅو وموئ چې ستاسو ماشوم په مرحله، صحنه او د کال ډله کې قرار لري، - او کوم ډول ارزيابي/ ټيسټونه/ازموینې به ولري:



| تدریس شوي مضمونونه | ارزیابي/ نیمه ازموینې/ ازموینې | د عمر ساحه | د عمر لرونکو ډله | مرحله | فاز |
|---|---|---|---|---|---|
| انګلیسي، رياضي، ساینس، ډیزاین او ټکنالوجي، تاریخ، جغرافیه، دیني زده کړې. هنر، ډیزاین او ټکنالوجي، موسیقي، ډرامه، فزیکي تعلم، محاسبه، تبعه، ژبې | د 7 کال پیل او په ورځنۍ توګه د KS3 له لارې. د عرفت ارزیابی ټیسټونه<br><br>دوامداره داخلي ارزیابي | 12-11<br>13-12<br>14-13 | 7 کال<br>8 کال<br>9 کال | کلیدي مرحله 3 | متوسطه |
| مرکزي مضامن: انګلیسي، رياضي، ساینس<br><br>اختیاري مضامن د ښوونځي له مضامنو سره توپیر لري. دا جغرافیه، تاریخ، RS کمپیوټر ساینس په ځان کې رانغاړي. PE، تجارتي زده کړې، د ماشوم ساتنه، DT، تخلیقي میډیا د ښوونځۍ څخه د پوره لیست په اړه پوښتنه وکړئ. | دوامداره داخلي ارزیابي<br><br>د 11 کال مای/جون: GCSE ( د ثانوي تعلم عمومي سند) او د داخلیدو ازموینه | 15-14<br>16-15 | 10 کال<br>11 کال | کلیدي مرحله 4 | |

نور معلومات دلته ترلاسه کولای شئ https://www.gov.uk/national-curriculum

### ایا زما ماشوم به په هر مضمون کې ازموینه ورکوي؟

معمولا ماشومان د 11 په وروستیو کې ملي ازموینه ورکوي. دوی د هر مضمون په ازموینه کې کښېنول کیږي. اساسي مضامن عبارت دي له: انګلیسي، رياضي، او ساینس. ټول زده کوونکي باید دا مضامن مطالعه کړي. سربیر پر دې، زده کوونکي معمولا د راتلونکي پنځو مضامنو ازموینه کې کښېنول کیږي

د 3 کلیدي مرحلې په پای کې (8 کال یا 9 کال) ښوونځی به ستاسې له ماشوم سره مرسته وکړي ترڅو د پای ازموینې لپاره مضمون غوره کړي چې ادامه ورته ورکړي. په دې کې ممکن GCSE مضامن شامل وي ( د بیلګې په توګه جغرافیه یا ډیزاین او ټکنالوجي) یا BTEC (تجارت او ټکنالوجي تعلم شورا) مضامن (د بیلګې په توګه تجارتي څیړنه او سپورت).


کاپي رایټ ©د بیل تعلمی خیریه شرکت د بیل بنسټ تر عنوان لاندې کار کوي (اکتوبر 2020)

ازموینه په لومړنۍ ژبه وړاندې کړي، همداراز هره ژبه شتون نه GCSE یو شمیر ښوونځی د زده کوونکو لپاره شتون لري چې د له ژبو څخه دي. له خپل ښوونځي څخه وپوښتئ چې ایا دا هغه څه دي GCSE لري. عربي، چینایي، اوردو، ګجراتي، او ایټالوي یو د .چې تاسو غواړئ ستاسو ماشوم یې ترسره کړي

خپل ماشوم سره د دوی په علاقو او راتلونکو پلانونو په اړه خبري وکړئ .دا مهمه ده چې هغه مضمون غوره کړي چې د دوی ورسره علاقه ده، ځکه چې دا به د دوی د راتلونکي لپاره مفید وي .خپل ښوونځي سره د خپل ماشوم د اختیاراتو په اړه خبري وکړئ .او هغه ملاتړ په اړه چې شتون لري

## 8. زما ماشوم به څه شي ته اړتیا ولري؟



- د ښوونځي بشپړ یونیفورم: په انګلستان کې ډیری ثانوي ښوونځي له ماشومانو څخه تمه لري چې د ښوونځي یونیفورم واغوندي. ستاسو د ماشوم ښوونځی به یو لیست وړاندې کړي چې څه باید وپیرل شي او چیرته وپیرل شي. که چیري پوره لګښت نه لرئ، له ښوونځي څخه غوښتنه وکړئ که دوی ملاتړ وکړي.
- پلان جوړونکی ګڼ شمیر ښوونځي هر کال یو کتاب وړاندې کوي ترڅو له زده کوونکو سره مرسته وکړي چې خپل ځان تنظیم کړي.
- یوه بکسه، پنسل بکسه، له قلمونو سره او داسي.
- د حساب ماشین او د ریاضي نور توکي
- د PE بشپړ(فزیکي تعلم) بکس کله چې اړین وي. ښوونځی به تاسي ته ووایي چې څه شي ته اړتیا ده، په دې کې ممکن د سپورت کالي هم شامل وی چې ښوونځی لوګو لري.
- غرمنی یا د ډوډۍ اخیستلو لپاره پیسې. ګڼ شمیر ښوونځی بې اړیکي تادیه سیستم لري، د دفتر پرسونل به ددې وړ وي چې ددې په تنظم کې مرسته ترسره کړي. یو شمیر زده کوونکي کولی شي وړیا خواړ ترلاسه کړي که چیري کورنی یې په لږه اندازه عواید ولري: نور معلومات دلته کتلی شئ



- https://www.gov.uk/apply-free-school-meals
- سفر پاس یا د سفر پیسي که چیري ستاسي ماشوم ښوونځي ته په بس، ټرام، یا ریل ګاډي کې سفر کوي. یو شمیر ماشومان چې له ښوونځي څخه دوه میله لیري اوسیږي کولی شي وړیا بس پاس ترلاسه کړي. دوړیا بس پاس په اړه نور معلومات لپاره دلته کتلی https://www.gov.uk/help-home-school- transport. یو شمیر ماشومان چې د ګرځیدو د ستونزو له امله یا ځانګړو تعلمي اړتیاو له کبله ښوونځي ته پلي مزل نه شي کولی، وړیا ترانسپورت به ترلاسه کړي، دا معمولا ټکسي وي. نور معلومات دلته کتلی شئ
- -https://www.gov.uk/apply-school-transport-for-child-with-special
- خپل ښوونځي څخه د موبایل پالیسي په اړه پوښتنه وکړئ یو شمیر ښوونځي موبایل ته اجازه نه ورکوي، ممکن چې هغه زده کوونکي مجازات کړي چې دوی بیا هم په ښوونځي کې موبایل کاروي

## 9. هغه زده کوونکي چې اړتیا لري څه ډول نور ملاتړ ورته موجود دی؟

- ملاتړ: ټول ښوونځي د داسي خلکو یو ټیم لري چې له ماشومانو سره د دوی د ستونزو په هوارولو کې مرسته کوي، د بیلګې په توګه د ملګرتیا ستونزي، ذهني ستونزي یا د اندیښني احساس. فورم تدریس کوونکي ته یا د کال رهبر ته وواياست چې ایا ستاسو ماشوم کومه ستونزه یا تشویش لري.
- ټول ښوونځي طرحه شوی محافظ رهبر لري چې ستاسي له ماشوم څخه ملاتړ کوي چې دوی د خوندیتوب په اړه په داخل د ښوونځی یا بهر د ښوونځي کومه ستونزه لري.
- د انګلیسي ژبي ملاتړ: زیات شمیر ښوونځي سپورټ په انګلیسي ژبي تقویت سره وړاندي کوي چیرته چې اړتیا وي. په عادي ډول په ټولګي کې د نورو زده کوونکو سره یو ځای ترسره کیږي.
- د زده کړی ملاتړ: ټول ښوونځي د زده کړي سپورټ وړاندي کوي چیري چې یي اړتیا لیدل کیږي ښوونځي ته وواياست که چیري فکر کوئ ستاسي ماشوم په زده کړه کې ملاتړ ته اړتیا لري. SENDC (ځانګړی تعلمي اړتیاو او ناتوانایي تنظیموونکی) به ستاسي ماشوم سره لیدنه ترسره کړي، او د دوی اړتیاوي به بر رسي کړي او غوره سپورټ به وړاندي کړي. دوی ممکن تاسي ته ووايي چې ستاسي ماشوم کوم ډول اړتیا لري یا ممکن تاسي ښوونځي ته وغوښتل شئ ترڅو ستاسي د ماشوم په اړه له تاسي سره خبری وشي. دلته د والدینو او شخصیت جوړوني یو غوره لارښود شتون لري https://www.gov.uk/government/publications/send-guide-for-parents-and-carers
- بهرني شرکتونه: ښوونځی له نورو مسلکي اشخاصو سره د بیلګي په توګه ډاکټر، د مهاجرت شرکتونه او تعلمي متخصصانو سره له نږدی څخه کار کوي ترڅو هغه ماشومان سپورټ کې چې اضافي مرستي ته اړتیا لري. که چیري کوم اضافي سپورټ ته اړتیا وي، ښوونځی به تاسي ته معلومات درکړي.
- عالي زده کوونکي: ټول ښوونځي اضافي بودیجه ترلاسه کوي ترڅو له هغه زده کوونکو څخه ملاتړ وکړی چې په اقاصادي توګه یي زیان لیدلی. دا پیسي ددې لپاره کارول کیږي چې زده کوونکو سره مرسته وشي ترڅو په بشپړه توګه په ښوونځي او د ښوونځي په ژوند کې شامل شي.
- مالي ملاتړ: ښوونځی کولای شي یو شمیر لګښتونه پري کړي دبیلګي په توګه د ښوونځي یونیفورم، د ښوونځي سفر، لوزام او داسي نور. ښوونځي ته وواياست که چیري تاسي د کوم لګښت پوره کولو کې ستونزه لرئ.
- د شخصیت مشوره او لوړي زده کړي: ټول ښوونځي د شخصیت جوړوني مشاورین لري چې دوی ستاسي له ماشوم سره مرسته کوي چې د راتلونکي په اړه هغه وخت چې ښوونځي پریږدي فکر پیل کړي او څه غواړي چې وکړي. دوی به ستاسي له ماشوم سره مرسته وکړي ترڅو:
  - مضامین غوره کړي ترڅو په GCSE کې زده کړه وکړي. اختیارات د 8 یا 9 کال په پای کې غوره کیږي.
  - د کاري تجربي غوره انتظام ترسره کړئ. ټول ښوونځي کاري تجربي فرصتونه نه وړاندي کوي. له خپل ښوونځي څخه د نورو معلوماتو په اړه وپوښتئ
  - د 11 کال څخه وروسته وخت لپاره د کورسونو او کالجونو په اړه معلومات ترلاسه کړئ. له ځوانانو تمه کیږي تر هغه په روزنه او تعلیم بوخت واوسي ترڅو چې 18 کلن شوي نه وي. تاسي کولای شئ نور معلومات دلته ومومئ: https://www.gov.uk/browse/education/find-course

## 10. څنګه کولی شم له خپل ماشوم سره مرسته وکړم ترڅو زده کړه وکړي؟

دلته ډیر نظریات شتون لري چې څنګه کولی شئ له خپل ماشوم سره مرسته وکړئ ترڅو زده کړه وکړي


کاپي رایټ © د بیل تعلمي خیریه شرکت )د بیل بنسټ تر عنوان لاندي کار کوي (اکتوبر 2020